


د سوله ایز بدلون د ټولنې مشر

ډاکټر فاروق اعظم

# د سوله ایز بدلون د ټولني مشر

## ډاکټر فاروق اعظم وينا

بسم الله الرحمن الرحيم
نحمده و نصلي على رسوله الكريم
دوستانو ! السلام عليکم و رحمة الله و برکاته.

زه د پاچاخان علمي څېړنيز مرکز د مشر ښاغلي شيرشاه رشاد څخه مننه کوم چې دغه مهمي غونډي ته ئې بلنه راکړه او ډېر خوښ يم چې د غونډي له برخوالو دوستانو، علمي شخصيتونو او پخوانيو آشنايانو سره بيا ګورم. دا غونډه زما په نظر ډېره مهمه ده. اهميت ئې په دې کي دئ چې موږ پرځان د

انتقاد عنعنه نه لرو او دا غونډه د همدې تشې د ډکېدو لپاره رابلل سوې ده. موږ د تاريخ په اوږدو کې لږ پر خپلو ناخوالو لکه څنګه چې و هغسې بيا کتنه کړې ده او له هغه څخه مو د خپل ښه راتلونکي لپاره کار اخيستی دئ. برعکس، موږ اکثره کوښښ کړی دئ د خپلو شخصي، قومي يا ګروهي ګټو په خاطر تاريخ مسخ او د روشنفکرۍ او روشنګرۍ تر نوم لاندې مو اکثره خپل ولس بيا بيا توهين کړی او د دغه قهرمان ملت عظيمې قربانۍ او حماسې مو يا په بل پوري تړلې او يا مو يې رنګ ورپيکه کړی دئ. موږ پردی پردی او خپل خپل نه دئ ګڼلی؛ که نه بيا ورور ورور نه واژه. پنځه دېرش کاله کېږي چې وينه مو تويېږي خو زموږ اکثرو روشنفکرانو او س هم دښمن و نه پيژاند چې دا موږ څوک وژني -زموږ دښمن څوک دئ؟ پر دغه موضوع څېړنه په کار ده.

زموږ د تاريخ بله غميزه دا ده چې د دښمن په تشخيص کې زموږ د عوامو سياسي بصيرت تر تعليميافته طبقې ډېر دئ. زموږ د تعليميافته طبقې اکثريت د توقع خلاف په تېرو څلويښتو کالو کې د دښمن رويباري کړېده خو عوام مو د هغوی سره جنګېدلي دي. دا هغه نکته ده چې څېړنغونډه بايد غور پر وکړي.

پر خپله خاوره د يو دولت په توګه زموږ معاصر تاريخ د ميرويس نيکه څخه پيل کېږي، احمدشاه بابا هغه ته شکل ورکړ او تر هغه وروسته دا کور (افغانستان) موږ د خپل هويت او ټاټوبي په توګه ساتلی دئ. زموږ د نيکه ګانو دې خدای پاک جنتونه ځای کړي چې موږ ته ئې پر خپله خاوره د خپل اختيار او تشخص امکانات برابر کړل. په نړۍ کې ډېر قومونه سته چې هويت نه لري او په نوم ئې هيواد، بيرغ، تذکره او پاسپورت نسته. خو موږ د خپل هيواد او هويت د درلودلو نعمت د خپلو مشرانو د قربانۍ او سياسي بصيرت له برکته لرو. اما، موږ کور ساتلی دئ خو هغسې چې په کار وه له بده مرغه روزلی مو نه دئ. موږ پر دغه کور هر تجاوز ته غاښ ماتوونکی جواب ورکړی دئ؛ خو د تجاوز تر دفع وروسته مو بيا سمبال کړی نه دی. دغه سبب دئ چې له يوه ناورينه خلاص نه يو پر بل اوړو. موږ خپل د دغه ناقابليت پړه تل پر نورو اچولې ده خو ډېر کم مو خپل ګريوان ته سر ټيټ کړی او اعتراف مو کړی دئ چې موږ هم پړ وو. احمدشاه بابا د ميرويس نيکه د کورنۍ مخالف و او وئې نه غوښتل چې د هغه دورې قهرمانۍ ثبت سي. موږ د ايران د امپراتورۍ د تسخير تاريخ له نورو څخه زده کړی او د پترکبير او عثماني امپراتورۍ

لښکرو ته ماته او ددغو معرکو د قهرمانانو تاریخ تراوسه موږ ته روښانه نه دی. دا ځکه یا موږ نه دی لیکلی او یا تر هغه دورې وروسته حاکمانو قصداً ورک کړی دی. احمدشاه بابا پخپل وار عظیمې کارنامې وکړې؛ د هندوستان، بخارا او نیشاپور فتح څه معمولي خبره نه وه؛ خو دده تر کورنۍ وروسته چې امیردوست محمد خان واک ته ورسېد، د هغه دښمنۍ په سبب چې د احمدشاه بابا له کورنۍ سره یې درلوده، د هغوی پر تاریخ ئې خاورې واړولې. موږ اوس د احمدشاه بابا د کورنۍ تاریخ د یو ورور له خوا د بل ورور د سترګو په ایستلو پېژنو. همدا ډول، امیردوست محمد خان د خپلو وروڼو سره په جنګ وو او کله چې د امیر محمد افضل خان او د هغه د زوی عبدالرحمن خان کورنۍ واک ته ورسېده نو ئې د امیردوست محمدخان د کورنۍ تاریخ مسخ کاوه. د میوند د غزا د عظیمې حماسې نور قهرمانان بېله محمد ایوب خان او ملالۍ ځکه موږ نه پېژنو چې امیر عبدالرحمن خان چې کال وروسته واک ونیو، د میوند د غزا د مشر محمد ایوب خان مخالف وو. امیرعبدالرحمن خان چې د انګریزانو په مرسته واک ته رسېدلی و، نه غوښته چې د میوند د غزا قهرمانان تبارز وکړي. د هغوی تاریخ او کارنامې همداسې پټې پاته سول او هېر سول. امیر حبیب الله خان په خپل وار، په هزاره فیض محمد کاتب د احمدشاه بابا او امیردوست محمدخان د کورنیو تاریخ ولیکی؛ خو په یو پښتون ئې اعتبار نه کاوه؛ دا ځکه پښتانه ښایي دده په زړه ددغو دوو رقیبو کورنیو تاریخ سم نه وای لیکلی. زما په یاد دي د ظاهرشاه او داؤدخان په حکومت کي چا د امیر امان خان نوم په ښه نسو اخیستلای. ظاهرشاه (د افغانستان پاچا) به د استقلال په ورځ عسکري رسم ګذشت ته ودرید او ملت ته به ئې د هېواد داستقلال اخیستونکی خپل پلار (محمد نادرشاه) وباله. موږ چې به د مشرانو څخه پوښتنه وکړه چې استقلال چا ګټلی دی، هغو به د امان الله خان نوم واخیست. دولت به د استقلال د غزا نور قهرمانان نه یادول. موږ ته به سؤال پیدا سو چې پاچا ولي تاریخ مسخ کوي او پر ملي قهرمانانو خاورې اړوي؟ خلقیانو د آل یحی د کورنۍ د غړو بوټونه او پایجامې هم د هغوی د تخریب لپاره عام محضر ته راوایستې. او سلسله همداسې تراوسه روانه ده. موږ د میوند او د استقلال د معرکو یو څو د ګوتو په شمار قهرمانان پېژنو او هغه هم صرف نومان ئې. موږ د روس سره زموږ د ملت د عظیم جهاد قهرمانان همدا اوس هېر کړي او یا مسخ کړي دي. همدا اوس کوښښ کېږي

چي زموږ د ملت د عظيمو قربانيو افتخار په نورو پوري وتړل سي. زموږ خپلو دغو تخريبي عزايمو پرينښوولو چي خپل قهرمانان وپيژنو، په هغو فخر وکړو او په دې ډول په خپل ځوان نسل کي د وطندوستۍ حس تقويه کړو. دا ولي؟ دا ډول موضوع ګاني ددغسي څېړنغونډولخوا بايد وڅېړل سي.

زموږ بله ستونزه دا ده چي واکدارانو مو واک خپل شخصي مال ګڼلی دی. که به د وطن ګټې د دوی د ګټو سره برابري او موازې وې خو ښه او که به احيانا په ټکر کي راغلې؛ نو دوی بيا خپلو شخصي او کورنيو ګټو ته ترجيح ورکړې ده. ددغه ډول ترجيحاتو مثالونه زموږ په تاريخ کي کم نه دي. زموږ د نن ورځي تکليف تر ډېره حده له همدغه دی.

افغانستان تر ډېره حده پښتنو او د کندهاريانو په قيادت جوړ کړی او ساتلی دی چي دا يو ډېر ستر او د قدر وړ کار سوی دی. خو څرنګه چي حکومتونه شخصي وه نو هغوی يوازي د خپل واک د ساتلو لپاره کار کاوه. هغوی فکر کاوه چي د دوی څخه غيرپښتانه حکومت نسي نيولای. هغوی د پښتنو څخه تشويش درلود او په پښتنو کي يې بيا د خپل تربور کندهاري څخه ډېره وېره وه. نو ځکه ئې په پښتنو کي سر نه پرېښود او کندهاريان ئې هروخت ځپل څو سرپکښي پيدا نسي. غيرپښتنو غوښته چي د اتحاد او نظم په زور په دولت کي ځان ته ځای پيدا کړي؛ د پښتنو قيادت معلوم وو، چي باچا دی. که هغه نه وي، د هغه زوی او که هغه نه وي لور به يې حکومت کوي او هغه هم د خپلو ځانو لپاره. او که دوی نه وي وطن دي هم نه وي. کله چي پر وطن بده ورځ راغله نو هر بل قوم يو مشر او نسبي نظم درلود خو پښتون څه نه درلودل. اوس ئې څوک راټوليدو او دريدو ته هم نه پرېږدي. او په ټولو ولاياتو کی بيا کندهار په تشتت او رواني بد حال کي واقع دی. دوولس کاله کيږي چي هم جمهوررئيس کندهاری دی او هم واليان، خو کندهار ته څه داسي ملموس کار ونسو. دا ولي؟ ددغه حالت عوامل څېړنه غواړي.

زموږ تعليمي نصاب بله ستونزه ده چي موږ يې د ډيرو ناخوالو سره مخ کړي يو. موږ د تعليم دوې ادارې لرو: يو ديني مدارس او بل عصري ښوونځي. په ديني مدارسو کي د وطندوستۍ درس نه وو؛ همدا درس د هند په ديوبند او د مصر په ازهر کي هم ويل کيږي. د هند د مغلي امپراتورۍ نصاب تعليم اوس هم زموږ په جوماتونو او ديني مدارسو کي مرعي الاجراء دی. له هغه وخته تر اوسه پښتو ژبه په جومات کی نه دا چي نه تدريس کيږي بلکي بده هم ګڼل

کېږي. فارسي چې د دربار ژبه وه زموږ په جوماتونو کې تراوسه رایجه ده او پښتون ملا او پښتون ماشوم دواړه ئې باید د خپلې ژبې په بیه زده کړي. څرنګه چې زموږ حکومتونه اکثره ملي نه وه نو خپل قوم ئې د مغول له فرهنګي استیلاء څخه را ونه ایستئ. د مغلو باچهی ډیره پخوا له منځه تللې ده خو فرهنګي چنګکان ئې تراوسه زموږ په مغزو کې ښخ دي. بلې خواته، زموږ په عصري ښوونځیو کې نه یوازې د وطندوستۍ مؤثر درس نه وو، بلکې تاریخ په ډېره بې رحمانه توګه مسخ کېدی. د پښتون پاچاهانو پښتو نه وه زده؛ ازبک، ترکمن، ایماق او نورو اقلیتونو د پښتو پر ځای فارسي زده کول دا ځکه دا د پاچا او دولت ژبه وه او د پښتو ژبې په زده کړه کې ډوډۍ او چوکۍ نه وه. پښتون چې به کابل ته ولاړ، موړ او عصري به سو، نو بیا به ئې فارسي ویل. وایي مړه ګیده فارسي وایي. زموږ نصاب اکثره ملي هدف نه درلود نو ځکه محصول ئې چې هرڅه راوخوت او هرچا چې یووړ. همدغه ستونزې زموږ تعلیافته ځوانان هغسې چې په کار وه د هېواد د استقلال د ساتنې، هوساینې او پرمختګ عناصر نه کړل. پر دغه موضوع هم څېړنه په کار ده چې موږ ولې یو ملي نصاب نسو جوړولای او خپل اولاد او هېواد ته یو روښانه مسیر نسو تعینولای؟

ستونزې ډیرې دي چې یو څو ئې ما دلته بیان کړې. که دا غونډه وکولای سی چې زموږ دغه ډول کمزورۍ په ګوته کړي او د هرې دورې خلک پرخپل ځان انتقاد پیل کړي، دا به ډېر لوی خدمت او زموږ په تاریخ کی به د ذهنونو د روښانولو په لوري لوی تحول وي.

ماته دا غونډه ډېره مهمه ده او هیله ده دا پر ځان د انتقاد او د خپل عظیم ملت د شجاعت د ثبت مغتنمه څېړنغونډه وي؛ خدای مکړه هسې ونسي چې د روشنفکرۍ او روشنګرۍ ترنوم لاندې داسې غونډې زموږ تاریخ بیا مسخ او د یو بل لوی مهلک ماشین موثره پرزه سي. زه پر سمه لار ددې غونډې د بریا دعاء کوم او د رابلونکې څخه ئې یو ورار بیا مننه.